دا زما څپلۍ واخله او د دې باغ تر شا چې هر چا سره مخ شوې او پدې خبره يې د زړه د باور له مخې ګواهي ورکوله چې له الله پرته بل حق معبود نشته، نو په جنت زيرى ورکړه

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دى هغه ويلي: مور د رسول الله صلى الله عليه وسلم شاوخوا ناست وو، زمور سره ابو بکر او عمر هم وو، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم زمور له منځه پورته شو او ډېر ځنډ يې وکړ، مور اندېښمن شو چې شايد راڅخه جلا شي او مور پريږدي، مور ووېرېدو او پدې اړه اندېښمن شو، زه لومړى کس وم چې اندېښمن شوم، نو پورته شوم او د رسول الله صلى الله عليه وسلم پسې مې لټه پيل کړه تر څو يې پيدا کړم، تر دې چې د انصارو د بني نجار د خلکو يو باغ ته راغلم، نو چارچاپېره ترې وګرځېدم خو دروازه مې ونه موندله، تر دې چې يو لښتى مې وموند چې د باندې له يوې څا څخه د دېوال له لارې دننه تللى و، نو زه ترې داخل ته ننوتم او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورغلم، هغه پوښتنه وکړه: "ابو هريره څه خبره ده؟" ما وويل: "اې د الله رسوله! تاسو زمور په منځ کې وئ، بيا پاڅېدئ او ځنډ مو وکړ، مور ووېرېدو چې هسې نه راڅخه جلا شې، نو اندېښنه راسره پيدا شوه، او زه لومړى کس وم چې اندېښمن شوم تر دې چې دې چاپېدوالۍ ته راغلم نو لکه د ګيدړ په څېر په کښېدو راننوتم، او نور خلک مې تر شا دي، هغه وويل: " اې ابو هريره!" او خپلې څپلۍ يې راکړې او ويې ويل:" دا زما څپلۍ واخله او د دې باغ تر شا چې هر چا سره مخ شوې او پدې خبره يې د زړه د باور له مخې ګواهي ورکوله چې له الله پرته بل حق معبود نشته، نو په جنت زيرى ورکړه»، د دې سره عمر د دواړو سينو په منځ کې ووهلم، تر دې چې مخ په شا ولوېدم او ويې ويل: وګرځه اې ابو هريره، نو بېرته رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وروګرځېدم، او په ژړا شوم، عمر راپسې شو، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: څه خبره ده اې ابوهريره؟» ما وويل: د عمر سره مخ شوم، نو په هغه څه مې خبر کړ چې تا يې له امله لېږلى وم، هغه د سينې په منځ کې داسې ووهلم چې شاته ولوېدم، ويې ويل: وګرځه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "اې عمره! څه شي اړباسلې چې داسې دې وکړل؟" عمر ځواب ورکړ: "اې د الله رسوله! زما مور او پلار دې تر تا قربان شي، آيا تاسو ابو هريره لدې څپليو سره رالېږلى و، ترڅو هر هغه چاته په جنت زيرى ورکړي چې پدې خبره ګواهي ورکوي چې له الله پرته بل حق معبود نشته، او پدې خبره يې د زړه له تله باور وي؟" رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: "هو"، بيا عمر وويل: "نو داسې مه کوه، ځکه زه وېره لرم چې خلک به په دې تکيه وکړي، پرېږده چې خلک عمل وکړي، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "نو پرې يې ږده».

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپلو صحابه کرامو په يوه ډله کې ناست و، چې په هغوى کې ابوبکر او عمر هم وو، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم پاڅېده، بيا يې ځنډ وکړ، هغوى ووېرېدل چې د دښمن لخوا له کومې بدې پېښې سره مخ نه شي؛ چې يا يې اسير کړي او يا بل څه. نو صحابه کرام په اندېښنه کې پاڅېدل، لومړى کس چې اندېښمن شو هغه ابوهريره رضي الله عنه و، تر دې چې د بني نجار يو باغ ته ورغى او ګرد چاپېره ترې تاو شو چې کېدى شي کومه خلاصه دروازه پيدا کړي چې پيدا يې نه کړه، خو په ديوال کې يې يوه وړه لار وموندله چې اوبه ترې دننه کېدې، نو ځان يې راغونډ کړ تر دې چې ننوت او رسول الله صلى الله عليه وسلم يې وموند، نو ورته يې وفرمايل: ته يې ابوهريره؟ هغه وويل: هو. ويې فرمايل: څه خبره ده؟ ابوهريره وويل: ته زمونږ په منځ کې وې، پاڅېدې او ځنډ دې وکړ، نو مور ووېرېدو چې راڅخه جلا نه شې، نو زه لومړى کس وم چې اندېښمن شوم، تر دې چې دې کنډر ته راغلم، نو لکه د ګيدړ په څېر په کښېدو راننوتم، او خلک مې تر شا وو. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلې څپلۍ ورکړې تر څو پرې خلک باور وکړي چې رښتينى دى او ورته يې وفرمايل: زما دا څپلۍ واخله او د دې ديوال تر شا چې له هر چا سره مخ شوې او هغه پدې خبره د زړه له تله ګواهي ورکوله چې له الله پرته بل حق معبود نشته؛ نو په چا کې چې دا صفت و هغه له جنتيانو څخه دى. نو لومړى کس عمر و چې ورسره مخ شوم، هغه

وویل: اې ابو هریره دا څپلې څه دي؟ هغه وویل: دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم څپلې دي، زه یې له دې څپلیو سره د دې لپاره رالېږلی یم چې له هر چا سره مخ شوم چې د زړه د باور له مخې یې ګواهۍ ورکوله چې له الله پرته بل حق معبود نشته چې په جنت زیری ورکړم. نو عمر په سوک سره ابو هریره په سینه کې وواهه تر دې چې مخ په شا ولوېد، ویې ویل: ابو هریره وګرځه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وروګرځېدم، په داسې حال کې چې وېرېدلی وم، رنګ مې الوتی و او ژړغونی وم، عمر راپسې تر شا راروان شو. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څه درپېښ شوي اې ابوهریره؟ ما وویل: د عمر سره مخ شوم، او په هغه څه مې خبر کړ چې تا لېږلی وم، نو داسې یو ګذار یې راکړ چې مخ په شا ولوېدم او ویې ویل: وګرځه. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: اې عمره! دې کار ته څه شي اړباسلې؟ عمر وویل: اې د الله رسوله! زما مور او پلار دې له تا قربان شي، آیا تا ابوهریره له خپلو څپلیو سره رالېږلی و، تر څو هغه چاته د جنت زیری ورکړي چې د زړه له تله پدې خبره ګواهي ورکوي چې له الله پرته بل حق معبود نشته؟ ویې وفرمایل: هو. هغه وویل: نو داسې مه کوه، یقینا زه وېره لرم چې خلک به د (کلمې) په ویلو له عمل پرته تکیه وکړي، نو پرې یې ږده چې عمل وکړي. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نو پرې یې ږده.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10094